# الفيل

**مکی سورة دی ۵ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ﴿١﴾

**آیا و دې نه لیدل چې ستا رب د پیلانو له څښتنانو( حبشی لښکرو سره) څه وکړل( چې د پیغمبر علیه السلام له مبارک ولادت نه څو کاله وړاندې د کعبې شریفې د ویجاړولو لپاره راغلی وو).**

أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ﴿٢﴾

**آیا ټوله شومه دسیسه یې ورله شنده نه کړه؟**

وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾

**او سیلونه سیلونه مارغان یې ورپسې ورواستول.**

تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ﴿٤﴾

**چې هغوی به یې په کلالی تیږو ویشتل.**

فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ﴿٥﴾

**او( په څو شیبو کې یې ) ټول د ژویل شویو واښو په شان تس نس کړل.**

**« تمت سورة الفیل بفضل الله و رحمته»**

**====================**